# "د سپین غر د سره"

# د مخ کتنې دستوره

**رپورټ: هارون الرشید خټک**

"د سپین غر د سره" د ستر اجمل خټک بابا نوې شعري مجموعه ده چې د اباسین پښتو ادبي جرګه خېراباد ضلع نوښار له خوا په اګست ۲۰۰۸ء کښې چاپ شوې ده. په دې مجموعه کښې د اجمل بابا د اوسني دور د شاعرۍ سره د هلکوانې د دور ۴۶-۱۹۴۵ د دور شعرونه هم شامل کړے شوي دي چې په قول د اجمل صېب د هغوي نه بې درکه شوي وو. دا مجموعه ټول یو سل درې نوي (۱۹۳) مخه لري او د خټک نامې د یو ستر سماجي شخصیت ښاغلي اقبال یوسف خټک په مالي مرسته د پنځهٔ سوه په تعداد کښې په غني پرېس پېښور کښې د ذکر شوې جرګې د سیوري لاندې د پښتو ادب مئېنانو ته ورسېده.

د دې کتاب د مخ کتنې دستوره په یولسم اګست ۲۰۰۹ د پېښور پرېس کلب په هال کښې وشوه. د دستورې صدارت مشهور لیکوال او صحافي ښاغلي سعدالله جان برق وکړو او ښاغلے ډاکټر محمد اعظم اعظم، پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک او پروفېسر ډاکټر سلمٰي شاهین د دستورې مشران مېلمانهٔ وو، د دغه مشرانو نه علاوه په سټېج د سندهـ نه راغلے لیکوال ډاکټر حېدر لاشاري او اقبال یوسف خټک، انجنئیر محمد ایوب خټک هم د مېلمنو سره کښېنولې شول.

د دستورې اغاز د تلاوت کلام پاک نه روښان یوسفزي وکړو. ورپسې د جرګې سیکټر او د دستورې نظامت کوونکي هارون الرشید خټک د اباسین پښتو ادبي جرګه خېراباد په تاریخ او ادبي خدماتو هلو ځلو رڼا واچوله او د اجمل بابا پېغام ئې هم واورولو. هارون الرشید خټک د جرګې په حقله مختصره دا ووئیل چې دا جرګه په کال ۱۹۷۷ کښې جوړه شوې ده او په خپل دوه دېرش کلن ادبي سفر کښې وخت په وخت مشاعرې، سیمینارونه او د مختلفو شاعرانو ادیبانو د کتابونو د مخ کتنې دستورې ئې کړې دي او مهم کار ئې دا کړے دے چې د ستر خوشحال بابا د مزار پاتې کار دپاره ئې د ضلع کونسل نوښار ناظم داود خان خټک باندې دوه ویشت لکه روپۍ فنډ منظور کړے دے او د مزار پاتې کار سرته رسېدلے دے.

هارون الرشید خټک حاضرینو ته دا هم ښکاره کړه چې د جرګې له خوا د کال ۲۰۰۴ نه را په دېخوا د پښتو او اردو لس کتابونه چاپ شول چې پکښې ۱) خېراباد تاریخ کښې آئینې مین. ۲) باچا خان کا اخري سفر. ۳) بابا اجمل خټک د ادب جمال او د

سیاست جلال. ٤) ترېسیکي. ٥) پښتو ادب کے معمار. ٦) خان عبدالولي خان کا سفر اخرت. ٧) دا اهونه دا دړدونه. ٨) تاریخ خټک. ٩) هارون الرشید د شنو کاڼو خټک. ١٠) د سپین غر د سره شامل دي.

اجمل بابا په خپل رالېږل شوي پېغام کښې په دې خبره سخت افسوس ښکاره کړو چې د بیمارۍ په وجه په دې تقریب کښې حاضر نهٔ شو حالانکې هغوي ډېر زیات خواهش ؤ چې په تقریب کښې شامل شي او د مینې وینې دا یاران ووینې. دوي د اباسین پښتو ادبي جرګه خېرا باد د ملګرو او کشرانو شکریه ادا کړه چې هغوي دا شعرونه راغونډ او چاپ کړل.

د اجمل بابا د پېغام اورولو نه پس د جرګې صدر ښاغلي ماصل خان آتش د بابا په حقله د جرګې د ادبي خدماتو، هلو ځلو په حقله مختصره وېنا واوروله او د اجمل صېب په شخصیت ئې ښکلے نظم واورولو چې د حاضرینو نه ئې ښه داد واخستو.

د دې نه پس د وړومبۍ مقالې دپاره ښاغلي اباسین یوسفزي ته بلنه ورکړې شوه. اباسین یوسفزي زباني وېنا کښې د کتاب په مختلفو اړخونو رڼا واچوله او د جرګې غړو ته ئې مبارکي ورکړه چې هغوي دا مهم کار په ډېر ښه کتابي شکل کښې د پښتو ادب او اجمل صېب مئینانو ته راورسولو. اباسین یوسفزي د اجمل صېب په حقله ډېر ښکلے نظم واورولو.

د اباسین یوسفزي نه پس زلمي لیکوال ښاغلي پروفېسر ډاکټر محمد زبېر حسرت ته د مقالې اورولو بلنه ورکړې شوه، هغوي خپله لیکلې مقاله سټېج سیکرټري ته حواله کړه او د ښاغلي پروفېسر ډاکټر فضل الرحیم مروت (چئیرمېن ټېکسټ بُک بورډ پېښور) لیکلے راستولے شوے پېغام "اجمل خټک د انقلاب چغه" تر عنوان لاندې ئې واورولو. ښاغلي فضل الرحیم مروت صېب په خپل پېغام کښې وئیل چې (خوشبختانه محترم اجمل خټک د پښتو په هغه شاعرانو، ادیبانو کښې دے چې د قلم او علم په ذریعه ئې د خپل پښتون اولس خدمت کړے دے. اجمل صېب له ماشوموالي ځخه انقلابي فکر لرلو او په خپل ژوند کښې مختلفو مفکورو او نظریو سره مخ شوے دے او په دغه مفکورو او نظریو کښې دوي د پښتون د اجتماعي پاڅون او خېر ښېګړې دپاره په زړهٔ پورې کار و زیار کړے دے. د اجمل صېب فکر او فن کهٔ د شعر و ادب په دنیا کښې ډېر شاعران ادیبان متاثر کړي دي نو بل خوا ترې په سیاسي مېدان کښې هم ډېرو ذهنونو اثرات قبول کړي. د مثال په توګه د افغانستان د خلق دیموکراتیک ګوند مشر حفیظ الله امین هم د اجمل خټک صېب د فکر و نظر نه متاثر شوے دے).

ستر انقلابي شاعر ښاغلي رحمت شاه سائل په خپله مقاله کښې د اجمل صېب په فن او شخصیت په زړه پورې مقاله واوروله او په خصوصیت سره ئې د خټک صېب په مزاحمتي رنګ رڼا واچوله او وئې وئیل چې چې خټک صېب ذهنونو او فکرونو ته ښکلا او پوهه ورکړې ده.

د مردان نه راغلي مشر لیکوال ښاغلي اسرار د طورو په خپله مقاله چې عنوان ئې "د سپین غر د سره- د اجمل خټک بابا بل کتاب" ؤ کښې ووئیل (محترم او مکرم اجمل خټک بابا د پښتو هغه نومیالے شاعر ادیب، صحافي او خطیب دے چې پښتو نظم او نثر ته ئې ولوله، جوش، ژوند، جمال،

جلال او خپل قام ته ئې خپل ټول صلاحیتونه بخښلي دي.

د پښتو ژبې دا بې بدله انقلابي شاعر او ځانګړے حماسه ویونکے په قام مئین ملي مبارز په لر او بر پښتونخوا کښې او د نړۍ په ګڼ شمېر ادبي دایرو کښې د قدر وړ مقام لري. د دې ننګیالي مجاهد په ژبه او قلم کښې بې کچه زور او بې شانه اثر دے.

د مقاله نګارانو نه پس مشرانو مېلمنو ښاغلي ډاکټر محمد اعظم اعظم، پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک، پروفېسر ډاکټر سلمٰي شاهین وار په وار ښاغلي اجمل خټک بابا په خپلو وېناګانو زبردسته عزت افزائي ورکړه او د پښتون په ملي او ادبي خدماتو، کردار، شخصیت، ایمانداري، پښتونولۍ ئې رڼا واچوله.

په دې تقریب کښې د سندهـ نه راغلي مېلمۀ د جي ایم سید سټډیز بورډ مشر ډاکټر حیدر لاشاري د خپلې وینا شروع د جئے سندهـ، جئے پښتونخوا نه وکړه. دۀ ووئیل چې پښتانۀ ډېر خوش نصیبه دي چې دوي د خټک او غني خان غوندې خلق زېږولي دي او زما چې کله د اجمل بابا سره وړومبے ملاقات وشو او د دۀ کور مې وکتلو نو زۀ حېران شوم چې دومره لوئے سړے لوئے سیاستدان دومره وړوکے او ساده کور. یقیناً چې اجمل خټک ډېر لوئے سړے دے.

په اخره کښې صدر تقریب سعد الله جان برق په خپله صدارتي خطبه کښې اجمل بابا ته د ډېر عقیدت پېرزوئنې وړاندې کړې او وې وئیل چې لوئے خلق اکثر په وړو او کچه کورونو کښې پېدا کېږي. مثال ئې د اجمل خټک زمونږ په وړاندې دے چې ټول عمر ئې د پښتون قام اولس او پښتو ژبې خدمت بغېر د څۀ عهدې د طلب او لالچ وکړو او هر وخت ئې د پښتو دستار جګ وساتو. برق صیب د اباسین پښتو ادبي جرګې کوششونه وستائیل او "د سپین غر د سره" په اشاعت ئې دوي ته مبارکي ورکړه. ښاغلي ایوب خټک د مېلمنو شکریه ادا کړه.

تقریب کښې د پښتونخوا ستر و ادبي، سیاسي، سماجي او صحافتي شخصیاتو ګډون وکړو او دا یو یادګاري تقریب وګرځېدو.

## ادبي مقدمې




ډاکټر زبېر حسرت د پښتو ژبې د عظیم شخصیت شاعر، ادیب، محقق او نقاد محترم دوست محمد خان کامل مومند " ادبي مقدمې" په ډېر کړاو او محنت را جمع کړې دي چې د علم و فضل او دانش نه ډک یو خالص علمي، تحقیقي، تنقیدي او ادبي کار دے.

دا کتاب د باچا خان ټرسټ ریسرچ سنټر له اړخه چاپ او خور شوے دے چې ۲۹۲ نوي مخونه لري او پکښې د کامل صاحب ۲۰ ادبي مقدمې را جمع کړې شوې دي.

دعا کوو چې دا کار و زیار د پښتو او پښتنو دپاره د ډېرې زیاتې ګټې او استفادې باعث وګرځي.

اداره